مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری
۲۰۲۳/۰۷/۰۳

# برايي

برايي مي په خوب ولید ه دلبرخپل
خدای دي خیرکړي چي نظر نه کړم نظرخپل
د غونچي غوندي خولګی یې په خندا وه
څلول یې په سرو شونډوکي ګوهرخپل
په دیدار یې د سپین مخ هسي خوشال شوم
چي غمونه ټول خواږه شوه تر شکرخپل
هومره ښاد یم له خپل بخته له نصیبه
چي څوک نه وینم په بخت کي برابرخپل
مطربانو! د مستی ترانې سر کړئ
چي سرو سترګو بیا نن کړی دی اثرخپل
ګرانه یاره په وصال مي زړګی ښاد کړه
په خوبونو به ترڅوسوځم ځیګرخپل
اې زما دزړګي سره په ماګرانه
کاشکي راشي چي قربان کړم مال و سرخپل
مستانه جامونه راوړه اشنا راشه
بیا نومست له عشقه وغواړه اکبرخپل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ